# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### آمریت اطلاعات و ارتباط عامه

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۶ اسد _سال ۱۴۰۱


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


اخبار کامل---------------------------------------------------------------------------------------------------- ٤

تفاهمنامه همکاری میان وزارت امور مهاجرین و اداره پناهندگان سازمان ملل متحد امضا شد ------------------------- ٤

بیش از دو مهاجرافغان ازایران و پاکستان به وطن برگشت نموده اند----------------------------------------------------- ٥

کمک های بشری به بیش از هزار خانواده دربرخی از ولایات کشو رسانیده شد --------------------------------------- ٦

له پاکستان او ایران څخه په خپله خوښه د بیرته ستنیدونکو افغانانو سره نغدي مرستې ډیرې شوې ------------------ ٧

برلین د مهاجرو د بې سارې ډیریدو له امله د سرپناه له کمښت سره مخامخ دی-------------------------------------١٠

ترکیه وایي یونان د دوی پر لور مهاجر شړي-----------------------------------------------------------------------١١

له ایران څخه د افغان کډوالو شړل دوام لري------------------------------------------------------------------------١٣

د کډوالو چارو کمېشنري: تېره میاشت مو ١١ زره زلزله ځپلو ته بیړنۍ سرپناه چمتو کړې -------------------------١٥

د کچکي بریښنا بند دوهمه برخه پرانیستل شوه------------------------------------------------------------------١٥

د هوا پېژندنې اداري په ١٥ ولایتونو کې د سختو بارانونو او سېلابونو د راوتلو اټکل کړی -------------------------١٧

# اخبار کامل

## تفاهمنامه همکاری میان وزارت امور مهاجرین و اداره پناهندگان سازمان ملل متحد امضا شد

ویب سایت وزارت



این تفاهمنامه که ارزش مجموعی آن ۱۱۹ میلیون افغانی است، برنامه های کاری مشترک دو اداره را در سال ۲۰۲۲ مشخص می کند، روز چهارشنبه ۵ اسد توسط الحاج محمد ارسلاح خروتی، معین مالی و اداری وزارت و خانم یومیکو تاکاشیما معاون دفتر UNHCR در افغانستان به امضا رسید.

معین وزارت امور مهاجرین در این مورد بیان کرد که وزارت متعهد به ارایه خدمات موثر و متداوم برای خانواده های نیازمند در سراسر کشور بوده و از آنجاییکه خدمت رسانی به نیازمندان نیاز به توجه چندجانبه دارد، این وزارت مسئولیت های یادشده را در همکاری با ادارات بین المللی تکمیل خواهد کرد .

وی به هماهنگی و همکاری اداره پناهندگان با وزارت تاکید کرده گفت که تاکنون دو اداره طوری باهم هماهنگ بوده که فکر می کنم ما یک اداره هستیم .

در همین حال خانم یومیکو ضمن تاکید به توسعه همکاری دو جانبه معلومات داد که در سال جاری قرار است روی ادغام مجدد برگشت کنندگان در سراسر کشور بخصوص در ۵۵ محل دارای اولویت به صورت همه‌جانبه نگریسته شود و برنامه های انکشافی مشخص در زمینه تطبیق خواهد شد .

این مسئول اداره پناهندگان سازمان ملل در کشور از علاقمندی اش برای افزایش سه محل دیگر در ساحات دارای اولویت خبر داده بیان کرد که سه هزار و ۲۰۰ خانه تخریب شده و زلزله‌زده را نیز علاوه بر سایر ساحات در برنامه های شلتر سازی اعمار خواهند کرد.

افزون براین ارائه کمک های زمستانی به خانواده های نیازمند و بیجاشده از موارد ذکر شده در تفاهمنامه مذکور است که به صورت مشترک از سوی دو اداره تطبیق خواهد شد.

## بیش از دو مهاجرافغان ازایران و پاکستان به وطن برگشت نموده اند

ویب سایت وزارت




به اساس گزارش ریاست های امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایات هرات ، نیمروز وقندهاردو هزارو ۵۳۷ نفر مهاجر افغان از کشور های ایران و پاکستان به تاریخ های سوم وچهارم اسد سال روان طور جبری و داوطلبانه به وطن برگشت نموده اند.

به گفته منبع ازولایت نیمروز ۸۷۷ نفر مهاجر، به تاریخ ۳ اسد سال روان طور اجباری و داوطلبانه ازایران به وطن برگشت نموده که از میان افراد مذکور۲۶ خانواده ، شامل ۱۰۱ تن و ۴۹۰ تن دیگرافراد مجرد بودند که طور جبری و ۱۶ خانواده شامل ۵۶ تن و ۲۳۰ تن مجرد بصورت داوطلب واردکشور شده اند.

به گفته منبع ازآن میان ۳۱ خانواده شامل ۵۹ مرد و ۵۴ زن و همچنان ۲۲ تن مجرد راغرض دریافت کمک، به دفتر IOM معرفی شدند.

همچنان به اساس گزارش ازسرحد اسلام قلعه ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت هرات به تاریخ ٤ اسد سال روان به تعداد(٢١ )فامیل شامل(٧٥ )نفر و(٤٥٦ )نفر مجردین طور اجباری و(٨٢) فامیل شامل(٣٦٤) نفر همچنان( ٦٨٧ )نفرمجردین بصورت داوطلب که جمعا یک هزارو ٥٨٢ تن میشود وارد کشور شده اند.

به گفته منبع که از آن جمله آمریت نمایندگی سرحدی به تعداد(٤٠ ) فامیل شامل( ٧١ )مرد و( ٧٣ )زن همچنان (٦٣)نفر افراد مجرد مستضعف وآسیب پزیر راتشخیص وبه دفترمحترم IOMجهت دریافت مساعدت معرفی نموده اند.

در عین زمان آمریت نمایندگی سرحدی سپین بولدک ریاست مهاجرین ولایت قندهار ازبرگشت ٢٠ خانواده مهاجرافغان ازپاکستان ، به تاریخ ٤ اسد خبرداد.

به گفته منبع 17فامیل شامل ١١٤ تن فاقد اسناد و ٣ خانوده شامل ١٨ تن دارای اسناد میباشد که از مرز سپین بولدک وچمن به وطن برگشت نموده اند.

## کمک های بشری به بیش از هزار خانواده دربرخی از ولایات کشو رسانیده شد

ویب سایت وزارت




ریاست های امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایات بامیان ،جوزجان ، هلمند، نیمروز ،زابل بادغیس و غزنی از توزیع مساعدت های غذایی و غیر غذایی برای یک هزارو ٢٧١ خانواده بیجاشده و عودت کننده درآن ولایات به تاریخ ٥ اسد سال روان خبردادند.

کمک های متذکره برای ١٤ خانواده بیجاشده ناشی از جنگ ولسوالی بلخاب ولایت سرپل در بامیان مواد غذایی شامل ٣ بوری آرد، ٧ لیتر روغن، ٩ کیلو دالنخود ، مواد سوی تغذیه و یک بسته نمک مساعدت WFP و بسته های صحی و فامیلی از طرف UNHCR ، به ٥٠ خانواده در جوزجان یک راس گاو شیری همراه با گوساله آن ، ٨٤٠ کیلو مواد خوراکه حیوانی و سه قلم ابزار مالداری از جانب ORD، به ٧٠ خانواده در بادغیس پول نقد مبلغ 26هزار افغانی ،

برای ٦٤٥ خانواده در غزنی مبلغ ٤٢٠ دالر امریکایی مساعدتUNHCR ،برای ١٥٠ خانواده در زابل بسته های صحی ووسایل آشپزخانه مساعدت موسسه WAW ، به ١٤٤ خانواده در هلمند
مبلغ ٢٣ هزارو ١٠٠ افغانی مساعدت دفتر OHAوبه ٤٢٣ خانواده در نیمروز ، مبلغ ٢٣ هزارو ١٠٠ افغانی مساعدت دفتر WFP، در هماهنگی با ادارات امور مهاجرین ولایات یاد شده توز یع شد.

## له پاکستان او ایران څخه په خپله خوښه د بیرته ستنیدونکو افغانانو سره نغدي مرستې ډیرې شوې

کډوال نیوز



د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري عالي کمیشنري (یو ان اچ سی ار) اعلان کړی چې له پاکستان او ایران څخه پر شرایط برابر د بیرته ستنیدونکو افغانانو سره یې د نغدي مرستو اندازه د کس په سره ۳۷۵ امریکایي ډالرو ته لوړه کړې. یادې اداري ویلي چې په خپله خوښه د افغانانو د بیرته ستنیدو پرورګرام د اګست له میاشتې پیلیږي.

د افغان کډوالو لپاره «د خپلې خوښې بیرته ستنیدو پروګرام» له لاري له دې وړاندې له هر کس سره د ستنیدو پر مهال ۲۵۰ امریکایي ډالره مرسته کیده. البته دغه مرستې یوازې هغو ستنیدونکو سره کیږي چې د «یو ان اچ سی ار» کارډونه ولري.

په پاکستان کې د کډوالو اداري عالي کمیشنري نن چهارشنبه په دې اړه په یوه بیانیه کې لیکلي:« هغه ستنیدونکي افغانان چې په پاکستان او ایران کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنري لخوا ورته د داوطلبانه ستنیدو فورم يې ترلاسه کړی وي، د ۳۷۵ امریکایي ډالرو د لاسته راوړلو مستحق پیژندل کیږي«.

خبرنامه




د راجستر شوي افغان کډوالو لپاره د خپلی خوښی  د بیرته راستنیدو ملاتړ چې غواړی چی له ایران او پاکستان څخه خپل هیواد (افغانستان) ته د ملګرو ملتونو دکډوالو عالی کمشنری د مرستی له لارې په داوطلبانه ډول راستنیدو پروګرام لاندې د ۲۰۲۲ کال د ۱ اګست له څخه تنظیمیږي.

هغه افغان راستنېدونکي چې په ایران او پاکستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنرۍ د خپلی خوښی د بیرته ستنیدو په مرکزونو کې د خپلی خوښی د بیرته ستنیدو فورمه (وي آر ایف) صادر شوي وي د افغانستان په ټاکل شوي د نغدو پیسو مرکزونو کې هر کس ۳۷۵ امریکایي ډالر د ترلاسه کولو مستحق ګڼل کیږي.

دا تعدیل په کوربه هیوادونو او افغانستان کې د ټرانسپورټ او استوګنې په لګښتونو کې د غیر معمولي زیاتوالي، د انفلاسیون مخ په زیاتیدو او په افغانستان کې د خراب شوي اقتصادي او بشري وضعیت په پام کې نیولو سره ترسره کیږي.

د پخوا په شان، دا تعدیل  به د ترانسپورت اود بیا یوځای کیدو لګښتونه په بر نیسي.

په هرصورت، راجستر شوي افغان کډوالو ته د یادولو وړ دی چې افغانستان ته هر ډول راستنیدل پخپله خوښه راستنیدل ستاسو رضایت پر بنسټ دی.

**پاکستان کې د یو ان اچ سی ار د دفتر  اعلان**

له بيرته ستنيدونكو افغانانو سره د مرستې د ډېرو لامل، په كوربه هيواد او افغانستان كې د ټرانسپورټ د لګښتونو ډېريدل او په افغانستان كې د بشري او اقتصادي ستونزو ډېريدل بلل شوي دي.

يو ان اچ سي ار ويلي چې د افغانانو بيرته ستنيدنه د دوې په رضايت ترسره كيږي او دغه مرستې د ټرانسپورټ د لګښت او د بيا ميشتيدنې په موخه ترسره وركول كيږي.

بل پلو بيا په پاكستان كې ميشت افغان كډوال له دې وړاندې كډوال نيوز ته ويلي و چې د بيرته ستنيدو پر مهال دغه نغدي مرستې نه شي كولاى د دوې ستونزې هوارې كړي. دوې وايي چې د سرپناه او بې روزګارۍ له امله اړ دي چې په پاكستان كې پاتې شي.

د يادولو ده چې دا مهال نږدې ۳ ميليونه افغانان په پاكستان كې ميشت دي چې له دې ډلې ۱،۴ ميليونه يي د ملګرو ملتونو عالي كميشنري سره ثبت دي. د يادې كميشنرۍ د معلوماتو له مخې د ۲۰۰۲ كال راهيسې شاوخوا ۵،۵ ميليونه افغانانو سره د راستنيدو پر مهال نغدي مرستې شوې دي.

## برلين د مهاجرو د بې ساري ډيريدو له امله د سرپناه له كمښت سره مخامخ دی

كډوال نيوز



د آلمان خبري آژانس ليکلي چې په دې وروستيو کې د آلمان په برلين ښار کې د مهاجرو شمير په بې ساري توګه لوړ شوی. په دغه ښار کې مهاجرو ته ځانګړي شوي ځايونه مخ پر خلاصيدو دي او نويو مهاجرو لپاره ډير کم ځايونه خالي پاتي. ويل کيږي چې ګڼ شمير اوکرايني مهاجر هم دغه ښار ته پناه وړي.

د آلمان خبري آژانس ليکلي چې په دې وروستيو کې د آلمان په برلين ښار کې د مهاجرو شمير په بې ساري توګه لوړ شوی. په دغه ښار کې مهاجرو ته ځانګړي شوي ځايونه مخ پر خلاصيدو دي او نويو مهاجرو لپاره ډير کم ځايونه خالي پاتي. ويل کيږي چې ګڼ شمير اوکرايني مهاجر هم دغه ښار ته پناه وړي.

په برلين کي د ادغام سناتوري او د کين ګوند سياستوالي کاتيا کيپينګ د چهارشنبې په ورځ د روان کال د جولای په ۲۷ مه، د آلمان خبري آژانس ته وويل چې برلين اوس د بېړني پلان پر عملي کولو غور کوي. په وينا يې داسي پلان شته چې د نورو اقداماتو تر څنګ د ۹۰۰ کسانو لپاره ځای لرونکي يوه لويه کيږدی د مهاجرو په مخ پرانستل شي. دغه کيږدی تر اوسه پوري د تېګل په نوم ځای کي د اوکرايني مهاجرو لپاره په خالي ولاړه وه..

د يادي سناتوري په وينا د دې تر څنګ پر دې هم غور کيږي چې په هوټلونو کي د نوو راتلونکو مهاجرو لپاره خوني په کرايه ونيول شي. د نورو کيږديو پر درولو هم غور روان دی .

کيپينګ ويلي دي چې برلين د ځو وخت راهيسي په پرتليزه توګه د زياتو مهاجرو کوربه شوی دی. دا ځکه چې «تقريبا د آلمان نور ټول ايالتونه د نوو راتلونکو مهاجرو د وېش له نظام څخه دباندي وتلي دي». د هغې په وينا په نورو ايالتونو کي تقريبا د لومړي ځل لپاره د پناه پر غوښتنه بنديز لګول شوی دی. هغې زياته کړېده چې نور ايالتونه استدلال کوي چې زيات شمېر د اوکراين مهاجر ورته راغلي دي چې د پناه غوښتني ته اړ نه دي. په وينا يې ځکه نو پر برلين زيات فشار دی.

## ترکيه وايي يونان د دوی پر لور مهاجر شړي

کډوال نيوز

خبرنامه




ترکېي پر یونان تور پورې کړی چې د مهاجرو یوه کښتۍ یې له خپلو اوبو څخه د ترکېې د اوبو پر لور شړلې ده. په انقره کې د ترکېې دفاع وزارت ویلي دي چې دغه پېښه د یکشنبې په ورځ روډِس ټاپو ته نږدې رامنځ ته شوې ده.

د ترکېې دفاع وزارت پر ټولنیزو رسنیو د ډرون الوتکې په ذریعه اخیستل شوې یوه ویډیو خپره کړې چې په کې ساحلي ساتونکي د مهاجرو کښتۍ مارماریس بندري ښار ته نږدې د ترکېې اوبو پر لور راکاږي.

رویټرز چې د سه شنبې په ورځ یې له استانبوله دغه رپوټ ورکړی دی، وایي چې د یونان ساحلي ساتونکو په دې اړه په سملاسي توګه څه نه دي ویلي او همدارنګه دغه خبري آژانس په دې هم نه دي توانېدلی چې د خپرې شوې ویډیو اعتبار تصدیق کړي.

په دغې ویډیو کې ښکاري چې د یوې کښتۍ کارکونکي یوه کوچنۍ ربړۍ کښتۍ په خپلې کښتۍ پسې تړي او د سمندر پر لور روانیږي. دغه کښتۍ وروسته ربړۍ کښتۍ په اوبو کې پرېږدي او بیرته روانیږي.

دا هم روښانه نه ده چې په دغې ربړۍ کښتۍ کې څو کسان سپاره ول. د رپوټونو پر اساس پر آتن تر دې وړاندې د بشري ډلو او د ملګرو ملتونو د مهاجرت عالي کمشنرۍ (UNHCR) له خوا تورونه لګول شوي چې مهاجر له خپلو اوبو څخه

په شا تمبوي، خو آتن بیا دغه تورونه په پرله پسې توګه رد کړي او وايي چې دوی د مهاجرو کښتی د هغوی د نجات په خاطر تعقیبوي.

یونان د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو پر مهال د اروپا د مهاجرت بحران پر وخت د مهاجرتونو لومړی کربښه او تر ټولو مهمه لار وه. هغه وخت شاوخوا یو میلیون مهاجر د یونان له لارې اروپا ته ورسیدل. اکثریت دغه مهاجر له جګړه ځپلو او بې وزلو هیوادونو لکه افغانستان، سوریه او عراق څخه ول چې تر ډیره د ترکیې له سواحلو د مدیترانې سمندرګي له لارې یونان پر لور روانیدل. خو تر هغه وروسته په دغې لار اروپا پر لور د راتلونکو مهاجرو شمیر ډیر راښکته شو.

## له ایران څخه د افغان کډوالو شړل دوام لري

د امریکا غږ




د سپین بولدک دروازه

د کډوالو او ستنېدونکو چارو وزارت وايي چې د ایران حکومت د افغان کډوالو جبري ایستل روان ساتلي دي او په خبره یې د ورځې زرګونه افغانان خپل هیواد ته ستنول کیږي.

د دغه وزارت د ورځني راپور په اساس، د روانې زمري میاشتې په لومړیو درېو ورځو کې ۳۵۰۰ افغان کډوال له ایران او پاکستان څخه بیرته خپل هیواد ته استول شوي دي.

دغه وزارت چارواکي وايي چې یوازې د شنبې په ورځ ۱۰۲۴ افغان کډوال له ایران او پاکستان څخه افغانستان ته ستانه شوي چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي.

د دوی په وینا د زمري میاشتې په دويمه او دریيمه ۲۶۵۶ نور افغان کډوال هم له دغه دوو هېوادونو څخه افغانستان ته ستانه شوي دي .وايي دا کډوال د نیمروز، د هرات د اسلام قلعهٔ او د کندهار د سپین بولدک له لارو ستانه شوي دي.

د یاد وزارت د معلوماتو په اساس، د راستنو شویو افغان کډوالو لویه برخه په زور له دغو هیوادونو څخه ایستل شوي دي .یاد وزارت ویلي چې افغانستان ته د ستنو شویو کډوالو سره د ملګرو ملتونو لخوا مرسته هم شوې ده.

تر دې دمه د طالبانو د حکومت د دغې ادعا په اړه پاکستاني او ایراني چارواکو په رسمي ډول څه نه دي ویلي .خو څه موده مخکې د ایران د کورنیو چارو وزیر احمد وحیدي ووېل هغه بهرني اتباع چې د ایران د بهرنیو وګړو د پېژندنې په طرحې کې نوملیکنه نکوي، په دغه هېواد کې یې اوسېدل غیرقانوني دي او له دغو خلکو سره به قانوني چلند کېږي.

ښاغلي وحیدي همدغه راز ایران ته د ورتلونکو افغانانو په اړه ویلي وو» : هغه افغانان چې ایران ته راځي باید د هېواد د عادي قانون مطابق د ویزو پیسې ورکړي. هغه دوستان چې له افغانستان څخه ایران ته راځي، د بهرنیو چارو وزارت د لاربښوونې په اساس او د هغوی د مراجعې ډول ته په کتو ورته ویزه ټاکل شوې او د ویزې اصلي قیمت ترې اخیستل کېږي«.

د طالبانو د حکومت چارواکو مخکې هم ویلي وو چې له ایران څخه په اوسط ډول د ورځې ۲۰۰۰ افغان کډوال ستنول کېږي. وايي چې له ستنو شویو افغانانو سره نړیوالې ټولنې او په خاص ډول د کډوالو عالي کمېشنري نقدي مرسته کوي.

د طالبانو حکومت ادعا کوي چې په تېرو شاوخوا لسو میاشتو کې ۷۰۰زره افغانان خپل هېواد ته راستانه شوي دي او ۳۵۰زرو نورو ته په خپلو سیمو کې د بېرته ستنېدو زمینه برابره شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې ملګري ملتونه وايي په افغانستان کې د طالبانو له بیا واکمن کېدو وروسته، له دغه هېواد څخه د افغانانو وتل زیات شوي او یو شمېر یې هڅه کوي په قاچاقي لارو اروپا ته ځانونه ورسوي.

په همدې حال کې ملګري ملتونه وايي د روان کال له پیل راهیسې تر دې دمه، ۳۲۸۰ افغانان له قاچاقي لارو ایټالیا ته رسېدلي دي.

د ملګرو ملتونو د مهاجرت سازمان وايي چې د تېرې جمعې تر ورځې پورې یوازې ۸۱۲۱ افغانان د مدیترانې د بحیرې له لارې ایټالیا ته رسېدلي دي، وايي دوی خپل ژوند په خطر کې اچولی او دا ستونزمن سفر یې ګاللی دی

## د کډوالو چارو کمېشنري: تېره میاشت مو ۱۱ زره زلزله ځپلو ته بېړنی سرپناه چمتو کړې

آزادي راډیو



زلزله ځپلو ته د سرپناه جوړولو هڅې

**د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو لویې کمېشنرۍ ویلي، تېره میاشت یې په پکتیکا او خوست ولایتونو کې ۱۱زره زلزله ځپلو ته اضطراري سرپناه برابره کړې ده.**

**دغې ادارې پرون په خپل ټویټر کې د خطرونو د مدیریت او تطابقت په چارو کې د UNHCR سلاکارې تاکاشیما یومیلکو (Takashima Yumiko)وینا را اخیستې چې ویلي یې دي، دوی په پام کې لري، چې دغه زلزله ځپلو ته نوي کورونه جوړ کړي.**

**په پکتیکا او خوست کې د چنګاښ/ سرطان پر ۲۷مه یوې زورورې زلزلې تر زرو زیات کسان مړه او په زرګونو کورونه یا تخریب یا هم ویجاړ کړل.**

**د راپورونو په بنسټ اوس هم زرګونه زلزله ځپلي کورنۍ بېړنۍ سرپناه ته اړتیا لري.**

## د کچکي بریښنا بند دوهمه برخه پرانیستل شوه

د امریکا غږ




د افغانستان په هلمند ولايت کې د کجکي برېښنا فابريکې د دوهمې برخې (فاز) کار تر بشپړېدو وروسته، نن چهارشنبې د جولای ۲۷ (زمري ۵) د طالب چارواکو لخوا پرانيستل شو.

د پرانيستنې په دغو مراسمو کې، په افغانستان کې د ترکيې سفير جهاد ارګنای، د طالبانو د رئيس الوزرا مرستيال ملا عبدالغني برادر او نورو لوړپوړو طالب چارواکو برخه لرله.

ښاغلي برادر د کجکي دوهم فاز پرانيستل د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره مهم زيرى وباله او ويې ويل چې "پردي زموږ ملک نه راجوړوي؛ موږ بايد خپله په يووالي او اتفاق سره خپل هيواد ته کار وکړو".

يادې غونډې ته د طالبانو د رئيس الوزرا دوهم مرستيال عبدالسلام حنفي هم وويل چې د کجکي برېښنا فابريکې د دوهم فاز په پرانيستلو سره به د ياد بند د برېښنا ظرفيت له ۵۰ ميګاواټو څخه ۱۵۰ ميګاواټو ته لوړ شي.

هغه وويل چې له دې برېښنا څخه به د هلمند ترڅنګ، د کندهار، ارزګان او ګاونډيو ولايتونو اوسېدونکي برخمن شي.

نوموړي زياته کړه: "نن موږ او تاسو ۱۰۰ ميګاواټه اضافه برېښنا پرانيزو چې ټوله ۱۵۰ ميګاواټه برېښنا کيږي، ان شاءالله چې د هلمند شريف ولس، کندهار، ارزګان او نور ګاونډي ولايتونه به ۲۴ ساعته برېښنا ولري. صنعتي فابريکې به هم له دغه برېښنا څخه استفاده وکړي او د ملي سوداګرو ټولې ستونزې به حل شي".

ښاغلي حنفي د کجکي دوهم فاز پرانیستل د طالبانو حکومت او افغانانو لویه لاسته راوړنه وبلله. د کجکي بریښنا فابریکې دوهم فاز د (۷۷) په نوم یوه ترکي شرکت لخوا جوړ شو. طالب چارواکو له یاد شرکت څخه مننه وکړه چې د یاد فاز په جوړولو کې یې پانګونه کړې ده.

یادو مراسمو ته په افغانستان کې د ترکیې سفیر جهاد ارګناې وویل چې د کجکي بند پروژې کې پانګونه د ترکیې او افغانستان د ژورو تاریخي، اقتصادي او فرهنګي اړیکو ښکارندویي کوي.

ښاغلي ارګناې زیاته کړه چې یاده پروژه د بریښنا ترڅنګ د کروندګرو لپاره هم حیاتي ارزښت لري او د هلمند او کندهار ولایتونو ته به بشپړه بریښنا چمتو کړي.

د نوموړي په وینا نړیوال بانک یاده پروژه له نژدې څاري او په خبره یې په تطبیق سره به یې سیمې ته پاملرنه وکړي. په کابل کې د ترکیې سفیر همدرانګه زیاته کړه چې هیواد یې په افغانستان کې یوازې د انرژۍ د تولید په برخه کې ۷/۵ سلنه پانګونه کړې ده.

پر همدې مهال د ترکیې د ۷۷ کمپنۍ مسؤل سلیمان جلیو وویل چې دوی به په افغانستان کې د انرژۍ د تولید په برخه کې، په کندهار او هرات ولایتونو کې هم د بادي بریښنا د تولید دپاره پانګونه وکړي.

په هلمند ولایت کې د کجکي بند په ۱۹۵۳ میلادي کال د امریکا متحده ایالاتو لخوا جوړ شو او په ۱۹۷۵ میلادي کال کې د بریښنا تولید ورڅخه پیل شو. هغه مهال د یاد بند دوه توربینونه فعال شول چې د ۱۶/۵ میګاواټه بریښنا د تولید ظرفیت یې درلود.

د کجکي بریښنا فابریکې دوهم فاز چارې په ۲۰۱۶ میلادي کال کې د افغانستان د پخواني حکومت پر مهال پیل شوې.

ټاکل شوې وه چې د دغه بند دوهم فاز د جوړېدو چارې په ۲۰۲۰ کال کې بشپړ شوې وای، خو هغه مهال د خراب امنیتي وضعیت له امله دغه چارې ټکنی شوې وې.

یاد بند د سل متره په اوږدوالي او ۲۲۹۰ متره په بر سره د ۲/۸ ملیارده متره مکعب اوبو مهارولو ظرفیت لري چې د هلمند ولایت ۱۸۰۰ کیلومتره مربع ځمکې خړوبوي.

د کجکي بریښنا فابریکې دوهم فاز په پرانیستلو سره د بریښنا زیاتوالي ته پر داسې مهال تمه ښودل کیږي چې په افغانستان کې د سختې وچکالۍ له امله ددغه بند اوبه کمې شوې دي.

## د هوا پېژندنې اداري په ۱۵ ولایتونو کې د سختو بارانونو او سېلابونو د راوتلو اټکل کړی

آزادي راډیو




فراه کې د سېلابونو د راوتلو یو انځور

**د افغانستان د هواپېژندنې ادارې په لړ تر لړه ۱۵ ولایتونو کې د نسبتاً شدیدو اورښتونو او سېلابونو راوتلو اټکل کړی دی.**

**دغې ادارې پرون چهارشنبه اعلان وکړ، چې اټکل کېږي په نورستان، کونړ، لغمان، ننګرهار، میدان وردګ، لوګر، خوست، پکتیکا، پکتیا، غزني، زابل، کندهار، هلمند، نیمروز او فراه کې د اورښتونو وروسته سېلابونه وبهېږي.**

**د افغانستان د هوا پېژندنې ادارې د تازه سېلابونو د راوتلو اټکل داسې وخت کړی، چې د تېرو سېلابونو له کبله زیانمن شوي کسان د مرستو له نه ترلاسه کولو شکایت لري.**

**د طالبانو حکومت د طبیعي پېښو په وړاندې د مبارزې وزارت له ویاند، محمد نسیم حقاني ازادي راډیو ته ویلي له سېلاب ځپلو سره په بېلابېلو برخو کې مرستې شوې دي:**

**نوموړي وویل: "مرستې شوي، خوراکي او غیرخوراکي مواد دغه راز خېمې سېلاب ځپلو ته رسول شوي او د ریس الوزرا له خوا د هر شهید کورنۍ ته سل زره افغانۍ ورکړل شوي دي. هر ټپي ته دېرش زره افغانۍ وېشل شوي دي".**




ډېرو سيمو کې سختو سېلابونو خلکو ته مالي او ځاني زيانونه اړولي دي .

په وروستيو اوونيو کې د افغانستان له مرکزي برخو نيولې تر ختيځ، شمال ختيځ او جنوب پورې تر سختو اوربښتونو وروسته راوتلو سېلابونو د طالب چارواکو په خبره په لسګونو کسان مړه او ټيپان کړي دي او ګڼ کسان بېکوره شوي هم دي.

په هغو انځورونو کې چې د ازادئ راډيو مينه وال د افغانستان له بېلابېلو برخو رالېږلي، ښکاري چې د سېلابونو له کبله اوښتي زيانونه زيات دي.

د افغانستان د هواپېژندنې ادارې چې د طالبانو تر ولکې لاندې ده، د چهارشنبې په ورځ اعلان وکړ، چې په نورستان، کونړ، لغمان، ننګرهار، ميدان وردګ، لوګر، خوست، پکتيکا، پکتيا، غزني، زابل، کندهار، هلمند، نيمروز او فراه کې تر اوربښتو وروسته د نسبتاً شديدو سېلابونو د راوتلو اټکل شوی دی.

Email: webmorr@gmail.com Media@morr.gov.af
پته: د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ، د جنګلک فابریکې شاته ، ۷ ناحیه کابل افغانستان
وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان




فراه کې د راوتلو سېلابونو يو انځور

**د دې ادارې په وينا د اورښتونو سطحه به له ۱۰ تر ۳۰ ملي مترو پورې وي.**

**د سېلابونو تر څنګ افغانستان تېره ميلادي مياشت د وژونکي زلزلې شاهد و چې عمدتاً يې په پکتيکا او خوست ولايتونو کې تر زرو ډېر کسان مړه کړل.**

**د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همږغی ادارې اوچا اعلان کړ، چې په ۹۰ ورځو کې تر ټولو سېلاب ځپلو ساحو کې ۳۶۲زره کسانو ته د عاجلو مرستو لپاره ۱۱۰ مليون ډالرو ته اړتيا ده.**